در زنده گي نفسي به راحت نکشي

زين دير هزاران هزار زمن پيش گذشت
شاهان همگي با حشم خويش گذشت
ما نيز روانيم چو ديگران بدست خالي
خوش باد به حال آنکه در ويش گذشت

گردون که پريش و خوار کرد ترا
چون مهره درون تار کرد ترا
نامردي بود شکوه ات از رنج زمان
ايزد به بلا دچار کرد ترا

کردگارا بر درت بهر دعا آمده ام
عاصي و پر گنه و روي سياه آمده ام
پرده پوشي و عطاي تو فزون است بسا
لطف فرما که به اميد پناه آمده ام

په شعر کي د سمبول موقعيت

سمبوليزم په ساده گي سره دي ته ويل کيږي چي کله څوك ديوه ذهني حالت د څرگندولو لپاره ... يو تصور (ايماژ) تر لاسه کړي او هغه په داسي ډول افاده کړي چي د ذهني حالت د څرگندولو په ځاي د هغه په باره کي تر لاسه شوي تصور مجسم کړي . افلاطون د سمبوليزم په هکله داسي عقيده لري :

« ددي په ځاي چي ووايو دا څه شي دي دا به ډيره آسانه وي چي ووايو دا شي څه شي ته ورته دي . »

کله چي صوره د يوې ذهني پديدي له پاره ددغي پديدي يو غوره قرار دادي او مثل شوي استازي ټاکو او بيا هغه په هنري ايجاد کي وکارو په حقيقت کي همدغه استازي د يادي شوي ذهني پديدي د سمبول په حيث گڼلاي شو. مثلاً په شرقي ادبياتو کي نرگس کله کله په استعاري شکل د سترگو په مانا استعماليږي دلته که سترگي او نرگس دواړه ذکر شي تشبيه گڼل کيږي چي سترگي مشبه او نرگس مشبه به دي . خو که يواځي نرگس ياد شي او د سترگو دپاره داسي رمزي کنايه راشي چي لوستونکي وژڅخه د سترگو مانا واخلي دلته نو استعاره واقع کيږي چي سترگي مستعار او نرگس مستعار منه بلل کيږي . مگر که يواځي نرگس د سترگو د نښي او ذهني تصور او ايماژ په حيث وکارول شي او د سترگو د مشخصاتو هيڅ ډول يادونه ونه شي دلته نو په حقيقت کي نرگس د سترگو له پاره د سمبول حيثيت غوره کوي. په هنري نړۍ کي د سمبوليزم غوره استازي (بودلر) ، (رمبو) (اندزه برتون)، (ورلن)، (مالارمه)، (ادکارالنپو) او نور دي دغه ادبي او هنري جريان په اتلسمه، نولسمه او شلمه پيړۍ کي د خپل اوج پوري ووهلي او په انگور گري، شعر او تياتر کي وکارول شو. په هنري ايجاداتو کي د سمبولونو کارونه د هنري ښکلابيز ځواك او جذب په ځومره والي کي خورا اغېزه لري .

په شعر کي سمبول ځانگړي ځاي لري او د هغو کارونه په عام ډول سره په دوه ډوله دي :

الف : آزاد سمبولونه: دا ډله هغه سمبولونه دي چي د يو شاعر له خوا د لومړي ځل له پاره او په ځانگړي ډول کارول کيږي : لکه :

باد مي د ژوند له باغه هر څه وړي
خدايه د کومو غرو لمن ونيسم

په پورتني بيت کي (باد) د ناخوالو او سختو شرايطو، پيښو، حوادثو،وحشتونو او يا هم د کومي خاصي پيښي سمبول دي چي شاعري د خپلي هنري ارائي له پاره کاروي.

ب : مقيد سمبولونه : هغو سمبولونو ته وايي چي قرار دادي او ښکاره ښه ولري او د ... شاعر په ځانگړي اند پوري اړوند نه وي مثلاً : نامتو غزل سرا حمزه شينواري په دي بيت کي :

آينه د خپل جمال مي مخ ته ونيوه حيران شوم
دا خو ما رڼا کوله د آشنا په انتکرکي

وگوري د خود بيني، خود شناسي او ځان ارزوني له پاره (آئينه) د ځومره واضح او ښکاره سمبول په حيث کارول شوي ده . دغه سمبول (آئينه) په ډيرو نورو شعرونو کي (د بيلا بيلو شاعرانو) هم د همدي ذهني پديدي له پاره کارول شوي ده، او هر کله چي هغه اورو . نو تر ډيره حده د ځان پيژندني او ځانته متوجه کيدو مفهوم مو په ذهن کي تداعي کيږي . د سمبول په هکله ددغي مجملي يادوني په آخر کي بايد ووايو چي د آزادو سمبولونو د کارولو او د مقيدو سمبولونو د هنري موقعيت د ټاکلو په وخت کي شاعر بايد دا هڅه وکړي چي سمبول ډير نا مانوسه نه وي هغه بايد ډيره هڅه وکړي چي د لوستونکي ذهن سره دا مرسته وکړي څو د هغه د سمبول اړه مفکوره او مفهوم په آساني سره تداعي کړاي شي البته دغه هڅه بايد په يوه کاملاً شاعرانه او هنري اتموسفير کي تر سره شي .

د محترم شاعر ملا اسد الله «حنيفي» ددي غزل په اړه چي مطلع يي ده :

بيا په منگورو زلفو خپل مين ته ټال ورکوي
که تا يغه د حسن ...

محم نعمان «دوست»

دلته څوك په زلفو نه زانگي له ميني
دلته هر سړي دغم ټال کي زنگيږي
حسن کوه له دي ځايه وختنه وړي
واړه خلك په سرو وينو کي لمبيږي
دلته اور په چمن بل دي لمبي خيژي
شهنشا د حسن بل چيرته اوسيږي
دلته زني ټپ خوړلي گريوان سوردي
شينکي خال په ټپي زنه نه جوړيږي
د شهيد مين تر څنگه ليلا ناسته
مينه هيره ده په سرو سترگو ژړيږي
خدا زده نه ورته له کومه ځايه گوري
چي ددي ځاي شيان تاته نه ښکاريږي
د غمونو له زنځيره څنگه خلاص بي
چي په لومه د ښايست دي زړه گيريږي
په نعمان غمونو هسي برغل کړي
په والله که تري يوه لحظه خلاصيږي

محبت

م. «روحيان»

محبت است که انسان همچون روح به او نيازمند است . چه پر لذت است اگر انسان در قلبها، اين آشيان عطوفت انسانی، تخم مهر و صفا و صداقت را بپاشد، تا از آن گلزار هاي عطوفت و صميميت و مهر روييدن گيرد. و گلزار عطوفت انساني بارور شود.

چه خوبست اگر به روي قلب لرزان، دست نوازش را، نوازش انساني را بگذاريم براي آناني که نيازمند آرامش و محبت انساني اند.

چه خوبست اگر اشکهاي که از سرچشمه، دل جاري شده، با سرانگشتان پر مهر خود او را بزداييم و غبار اندوه را با نسيم محبت راستين صفايي بخشيم .

ټوټه

د منزل په لوري پل په پل قدم ږدم
سپين بيرغ د آزادي به چم په چم ږدم
له پيچومو، گړنگونو نه تيريږم
د «ناهيد» سرته گلان رقم رقم ږدم

ملا اسد الله «حنيفي»

د هيواد گرانښت

دا هيواد مي د زړه سر، دسترگو تور دي
په ژوندوني راته کور، په مرگ مي گور دي
زه بي ډيرو نعمتونو يم روزلي
هر يو حق، هر يو خدمت يي پرما پوردي

تسل ښيوه وال

ته پوهيږم ؟

داکتر باز محمد

ډير له پخوا مي اوريدلي دي چي روح د انسان د وجود پاچا دي او تن يي هيواد. عقل يي وزير دي، دوه قوماندانان لري چي يو يي د شهوت او بل يي د نفس په نامه يادېږي. پنځه حسه ظاهري او پنځه حسه باطني يي لښکر دي.

هو! دا پاچا ډير ښکلي او پاك وي له هر څه نه په ځان ډير مطمين او ډاډه وي. هيڅ بد کار يي نه خوښيږي. وزير ته ضرورت لري ځکه چي د هيواد چاري پر مخ بيول د وزير وظيفه ده . که عقل موجود نه وي نو شعور په ځومره لاره ولېږده شي. قوماندانان چي د هيواد په امن ساتلو کښي زياته ونډه لري هم ضرور دي ځکه که شهوت نه وي د انساني ژوند سلسله به ټپه ودريږي او يو انسان به له بل انسان څخه پيدا نشي. که نفس نه وي هغي انساني تړي ته چي د انسان خاص ضرورت ورته شته لکه : ښه کور، موټر، طياره، رنگارنگ غذا وي او د ژوندانه داسي نور ضرور شيان به هيڅ وجود ونه لري.

څه وخت چي پاچا وزير او قوماندانان موجود شول دلته نو مو هغه اړتيا و يو هيواد ته پيدا کيږي چي هغه تن دي که تن نه وي بيا به روح او د هغه ملگري چيري ژوند وکړي. څه وخت چي هيواد منځ ته راځي له هغه څخه د دفاع ذريعي هم له خاصو اړتياو څخه گڼل کيږي او لښکر ته ضرورت لري. حواسونه چي د تن لښکر دي له خاصو ضرورتو څخه دي .

ابليس چي د انسانيت ښکاره دښمن دي او هڅه کوي چي دا پاك او سپيڅلي هيواد خراب او برباد کړي. تل تل په قوماندانانو پسي هڅه کړي چي تر اندازه زياتو خواهشاتو ته يي راوغواړي. په ښکلا کښي ښکلا ورته ښکاره وي او په خواهش کښي غوښتنه ورته زياته وي. څه وخت چي يي د ځان ملگري کړل بيا د هغوي په مرسته د هيواد په لوټولو د وزير د سترگو په پټي کولو او د پاچا د پاکي په خيرنولو پسي کوښښ شروع کوي . همدارنگه د ځکي په مخ ټول هيوادونه و ژوند کړلو او يو نظام نظم ورتکري.

که پاچا بيداروي او وزير سالم وي ټول وخت له خپل ملت او قوماندانانو څخه خبروي نه پريږدي چي خپل خواړه ملگري د اور د ابليس متکلو ته پريږدي . خپل هيواد رنگ او برباد کړي. خپلي سترگي پټي او خپل پاك مخ نا پاکه کړي . هر انسان ته دا لازمه ده چي خپل ځان وپيژني او د خپل اصلي دښمن سره په ټينگه مقابله وکړي او په خاصه توگه د اسلامي هيوادو مشرانو ته ضرور ده چي له خپلو ځانو او هيوادو څخه خبر واوسي او د ټولو شيطانانو و شيطاني عملواوشيطاني چلو په ټينگه ځواب ورکړي .

نه پوهيږم چي څه وشول چي زموږ د زماني اکثر سترگي پټي، سپيڅلي مخونه خيرن او روغ هيوادونه مو ونړيدل. د نړۍ شيطاني چلونه زموږ په سپيڅلو هيوادو کښي مخ ته ولاړل .

از اين دريچه به تدبير ...

حميرا «نکهت»

دلي که سخت گرفته ست ، من چها کنمش
بهانه سوخت ز داغش ، به گريه واکنمش
مرا ز قبيله موعوديان نميداند
که آشنا به سراپرده، خدا کنمش
جهان قبيله، ناز است دلپرستان را
از اين دريچه به تدبير آشنا کنمش
کنايتي ست در اين طرفه عاشقانه گيم
سزاي مصلحت ايکاش مدعا کنمش
زماجراي غريبانه ام بخنداي دوست
که فصل فصل کريسانه بي ادا کنمش
هزار سلسله در پاي آرزومندي
هزار باره به وصل تو التجا کنمش
در اين کتيبه، هفتادو اند هزاران سال
به جلوه سار حضور تو تا خدا کنمش
دلي که سخت گرفته ست ، من چها کنمش
بهانه سوخت ز داغش ، به گريه واکنمش

غزل

عبدالرحمن «نيازي»

ښايست چي ئن داسوي لرو بري جوړوي
بلبل به خاموخا خپلي وزري جوړوي
د ښايست بلا دي واخلم داسي منه راته راگوره
ټول خلك گماني شول اوس خبري جوړوي
زيږوته بد منه وايه يو زه يم زړه زيښبلي
بل زړه مازديگري دي چي گودري جوړوي
اي خالدا د اور بل سيوري دي «ستادمورشيدي شي»
جانان خو لازمونو نه کلي لري جوړوي
دا نيت يي د وراني دي او که څنگه چي اشنا
اوس بيا ورو خبرونه بري جوړوي

خلوت

شود آيا که دگر باره نه تاك نشينيم
غزل خواجه بخوانيم و رخ پاك ببينيم
زين همه گيرو گرفتي که فلك قسمت ما کرد
بگريزيم و يکي خلوت دلخواه گزينيم
اينقدر بس که به سوداي تو از جان بگذشتيم
ما چه لافيم که در عشق چنانيم و چنينيم
دل چو از غصه بياسود به زنگار نشيند
شاد ما نيم که از عشق تو با غصه قرينيم
وصف مهتاب چه گوييم که با او ننشستيم
صفت خاك زما پرس که فرزند زمينيم
ما ز دشمن نهراسيم که جز مهر نورزيم
ما کدورت نشناسيم که بيگانه ز کينيم
مرغ وسواس بگو جانب ما پر نکشايد
که نهال شرر از پر تو انوار يقينيم
فاني از درد بخود پيچ و مگو راز به بيدرد
شاد پرداز غزل را که ندانند حزينيم

د پکړۍ گله

سيداجان «غمخور»

اي د لوړو غرونو بازه
د افغان د پکړۍ کله
پخير راشي گران عمره
له قندهاره تر کابله
درته وژاړم په چيغو
که گريوان درته پاره کړم
سره په وينو کي پراته مو
شهيدان درته ښکاره کړم
راشه وگوره کابل ته
څنگه وسوځيد لمبو کي
هره مور ده بوره شوي
هره خور گرزي کوڅوکي
روغ کابل يي کربلا کړ
پکي واوره دا لابله
هر شهيد پروت په انگړ کي
ورنه تاويي يتيمان و
هر يو ځاځکي د سرو وينو
د ظالم په مخ سيلاب شو
راچپه يي کړل قصرونه
دلته جوړ لوي انقلاب شو
سپين بيرغ په رپيدو شو
تکبيرو سره روان دي
د جهاد سنگر ته دروميې
دا چه گوري طالبان دي
د سيد غمخور زړگيه
ورنه زار شه هزار ځله
په خير راشي گران عمره
له قندهاره تر کابله

نسخه شفآء

جهيد

حضرت ابوبکر شبلي «رح» ، نزد حکيمي آمده و برايش گفت : « من به مريضي گناهان مصاب شده ام. ميخواهم ازين مريضي نجات پيدا کنم. اگر نزد شما کدام دواي آن موجود باشد برايم بدهيد »!

با شنيدن اين سخن شخصي که در آنجا مصروف جمع کردن خس و خاشاك خشك از زمين بود و ازين طريق احتياجات زندگي خود را پوره مي کرد، سر خود را بلند نموده گفت : شبلي ! اينجا بيا تا دواي مريضي ات را من نشان بدهم . شبلي «رح» نزديك او رفته و نشست آن شخص نسخه مريضي شبلي «رح» برااينطوربيان کرد

گل حيا، ميوه، صبر و شکر، جوانه، تواضع، برگ هاي صداقت، پوست درخت ادب، و تخم اخلاق نيکو، اين همه را يکجا کن و در هاون (تقوي) و پرهيزگاري بکوب ، و هر روز عرق پشيماني را با آن مخلوط کن . حالا اين مرکبات را در ديگ دل گذاشته و در ديگدان شوق خوب بجوشان، هرگاه که پخته شد از صافي دل آن را بگذران بعداً با حلاوت شيرين زباني يکجا آميخته وحرارت تيزمحبت را برآن بيفزا .

وقتيکه اين عمل را انجام داديد و يقين نموديد که هرچيز کمال پختگي خود رسيده، بعداً آنرا پائين کن وازترس وخشيت خدا «ج» درهواي سرد ، يخ کن وبازاستعمال کن .

شبلي «رح» از شنيدن نسخه سخت متوجه بود ، بمجرديکه سخنان آن شخص تمام شده و شبلي «رح» سرخود را بالا نمود، مي بيند که آن مرد نيست !

د وخت اتله

طالب العلم عبدالله له وزارت داخلي څخه

تا د اسلام په نامه کړي دي ستر ننگ ته سلام
د حق په لار کي دي د حق د توري شرنگ ته سلام
طالبه وروره طالبه وروره
راوړي تا ځان سره بيا د سرکالي زيري دي
د محبت او صداقت او ورورولي زيري دي
د مليشو په مرچلونو ستاسي غورځنگ ته سلام
ته د قوي او فولادي عزم بچي ياديږي
د احمد شاه او غزنوي صاحب لمسي ياديږي
ستا فولادي او غيرتي عزم کړنگ ته سلام
له پاکه خدايه دي دا سپين بيرغ ځلاند غواړمه
د هندوکش په هسکو څوکو بي رپاند غواړمه
د پاك ارمان لپاره ستا جهاد او جنگ ته سلام
زه عبدالله دي هميش ځانته افتخار گڼمه
دوخت اتله د هيواد دي خدمتگار گڼمه
ستا وچو شونډو جوړ ځنو سوي رنگ ته سلام

نکته ها

* اگر دروغگو نمي بود راستگو شناخته نمي شد *شمشيري عليه مهرباني وجود ندارد
* بکار هاي زشت عادت مکن زيرا ترك آن مشکل است
* نظم در زندگي بهترين داروست
* کسي موفق و کامياب ميشود که زود خسته نشود و حوصله فراوان داشته باشد
* اگر ميخواهي زياد عمر کني در جواني پير شو
* نه از خودت تعريف کن و نه بدگويي

در نتیجه کشت زمین و اجوره کار ماشین...

منبع افزود فارم تحقیقاتي بادام باغ که از اثر جنگ هاي دوران رژیم قبلي تخریب و غیر فعال گردیده بود دوباره به همکاري مادي و تخنیکي موسسه جرمن اگرو اکشن فعال گردیده که در ساحه پنج جریب زمین قوریه میوه جات احداث گردیده و مقدار بیشتر از ۵۰۰۰ سیر گندم اصلاح شده بدست خواهد آمد از فارم هاي زراعتي پروژه کانال ننگرهار و زمین هاي مربوط آن طي سال روان حدود مقدار ۲۲۷۷۰۰ سیر گندم و همچنان مقادیر زیاد سایر حبوبات و نباتات روغني بدست آمده و حدود مبلغ ۱۳۰۰ ملیون افغاني از مدارك مختلف آن فارم عاید گردیده است .

منبع علاوه کرد در جریان سال هاي که تسلط و حکمروایي ظالمانه و نامشروع رژیم هاي قبلي و در اثر جنگ هاي دوامدار ارتباطات رسمي و عملي وزارت زراعت با مرکز ولایت و ولسوالي ها قطع گردیده بود که الحمدلله با استقرار و تحکیم نظام اسلامي در کشور توسط تحریك اسلامي طلبه ها این ارتباطات دوباره احیا گردیده است .

هکذا دفاتر ثبت اسناد و ملکیت زمین هاي حکومتي که حدود بیشتر از ۳۵۰۰۰ جریب زمین را در بر میگیرد در اکثر ولایات کشور که قبلاً در اثر جنگ ها از بین رفته بود با تأمین امنیت و اعاده صلح دو باره در نتیجه تلاش هیأت رهبري و کارکنان وزارت زراعت دوباره از مرکز تهیه و به ولایات ارسال گردیده است تا در رفع مشکلات و دعاوي افراد و اشخاص رسیده گي قانوني و شرعي صورت گرفته بتواند .

همچنان وزارت زراعت در اوایل سال ۱۳۷٦ - ۱۳۰ هزار نهال در کمر بندهاي شهر کابل غرس نموده و بیشتر از ۱۰۰ هزار اصله نهال غیر هاي مثمر را به موسسات و اشخاص توزیع نموده و در نظر است به تعداد ۱۰۰ هزار اصله نهال مثمر در سال آینده توزیع گردد .

به اثر برخورد هاي مسلحانه بین قوماندان جمعیت و ...

جنگ هاي شدید که بین قوماندان نجم الدین واثق و زلمي در منطقه جرم بدخشان صورت گرفت نود دو تن از افراد جانبین تا کنون هلاك گردیده اند. همچنان در نتیجه جنگ هاي که در منطقه یفتل پایان آنولایت بین نیرو هاي جمعیت و شوراي نظار بوقوع پیوسته است حدود هشت تن از افراد جانبین هلاك و هفت تن دیگر شدیداً زخمي گردیده است .

در اثر این جنگ هاي قدرت طلبي و غارت اموال مردم که از مدتي به اینطرف بین قوماندانان جمعیت و شوراي نظار در ولایت بدخشان ادامه دارد . علاوه از خسارات مالي و جاني که به جانبین وارد شده است. به مردم ملکي آنولایت نیز وارد گردیده مردم از موجودیت آنها در مناطق شان به ستوه امده اند .

اهالي مومن و مسلمان بدخشان در اثر ادامه این جنگ ها و غارت اموال شان توسط تفنگداران جمعیت و شوراي نظار صبر و حوصله شانرا از دست داده خواهان بیرون راندن این قطاع الطریقان و جنگجویان از مناطق شان میباشند.

په اسلامي شریعت کي د ښځي او نر ...

پلارولي او مورولي ورته حیرانیږي.

په اسلامي شریعت کي د ښځي او نر د برابر والي لوي دلیل د قصاص موضوع ده، چي ښځه او نر شرعاً په قصاص کي سره یو شي دي، کـه نر ښځـه ووژني نو نر وربانديِ قصاصیږي او دا ځکه چي ښځـه او نر په بشري حقوقوکي سره یو شي او مساوي دي. لکه چي الله تعالي فرمایي : ترجمه : اي مؤمنانو! «په قتل کي په تاسو باندي قصاص فرض شوي دي چي حر به په حر وژني، غلام به په غلام وژني او ښځه به په ښځه وژني.

د نارینه وو سـره د مـؤمنو ښـځـو د برابروالي یو بل دلیل دا دي، چي د ټولني په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزوچارو کي د ګډون مساوي حقوق لري. د بیلګي په توګه د حضرت محمد «ص» په مشري د لومړي اسلامي دولت د بنیاد ایښودلو د تړون په لاسلیك کولو کي چي مکي ته نیږدي یې د مدیني د مسلمانانو له یوي ډلي سره چي په هغه کي دري اویا کسه سړي او دوه ښځي وې، مؤمنو ښځو ګډون درلود او همدارنګه مؤمنو ښځو د الهي سلطنت په ټینګولو او پراختیا کي له حضرت محمد«ص» او خلفاي راشدینو له زماني څخه ،انیولي بیا تر اوسه پوري د کفـر او الحـاد پر ضـد هجـرت او غزاګاني کړي دي، چي دا کار په ماهیت کي د ښځو سیاسي برابري را په ګوته کوي. بي بي عایشه صدیقه«رض» د اسلامي امت د مفتي په حیث هغه وخت منل شوي وه، حضرت عمر فاروق «رض» د ښځو څخه مشوره غوښته او د حضرت شفا بنت عبدالله «رض» قریشي درایي څخه بي قدرداني کوله او د هغي مبارکي رایه به بي مقدمه ګڼله او کله کله به حضرت عمر فاروق«رض» همدي بي بي شـفـا «رض» ته د بازار د نګراني (ښاروالي) وظایف هم ورسپارل .

شیخ محمد شلتوت لیکي په قرآن کریم کي دا خبره ثابته ده چي ښځه په زده کړه، تعلیم او علم سلا او مشوره، په جهاد او غزا کي، د وینو مسؤلیت او تصرفات یي په مدني او اجتماعي چارو کي د نارینه سره برابر ده . په دي هم باید پوه شو څرنګه چي نر مدعي، مدعي علیه، شاهد، مشهود علیه، وصي، قیم، وکیل، راهن، مرتهن، شریك، متصدق، متصدق علیه، واهب، موهوب به او داسي نور کیداي شي همدا راز ښځه ، شرعاً حق لري چي مدعیه، مدعیه علیه، شاهده، مشهوده علیه، وصیه، قیمه، وکیله، کفیله، راهنه، مرتهنه، شریکه، متصدقه، متصدقه علیه ، واهبه، موهوبه لها او داسي نور کارونه وکړي .

ځـیني نارینه وایي چي د لاندیني آیت شریف له مخي نارینه پر ښځه ښه او لوړ دي، لکه چي الله تعالي فرمایي :ترجمه : «نارینه، په ښځو باندي لوړتیا لري» خو دا درجه او لوړتیا د نفقي د ورکول، د مسکن د پیدا کولو او د یو شمیر ټولنیزو چارو په برخه کي د اجـرا لوړتیـا او جګوالي دي، چي ښـځـه طبیعتاً د هغو د سرته رسولو قدرت نه لري همدارنګ کتي مټ داسي چاري شته چي په خپل نارینه هم د هغوي د سرته رسولو وس او حوصله نه لري ، نو دا ددي مانا نه شوه چي ښځي له نارینه وو څخه ښي او لوړي دي او یا دا چي نارینه له ښځو څخه ښه او بهتر دي .

لنډه دا چي ښځه د الله تعالي په نزد د نارینه په شان هغه مخلوق دي، چي له یوه نفس څخه یي د ځمکي پر مخ داخروي او دنیوي مسوولیتونو عباداتو او چارو له پاره د نارینه تر څنګ زرغونه او پیدا کړي ده او په تیره بیا یوه مؤمنه ښځه چي د مور لوړ مقام خداي«ج» ور په برخه کیږي او د هغي غیږي خداي«ج» د پیغمبرانو «ع» . اولیاوو او د مسلمه امت د نوميالیو او اتلانو د پالني، روزني او ښووني لومړني مدرسه ګرځولي ده .

له همدي امله د اسلام ستر پیغمبر رسول اکرم «ص» خپل امت ته د ښځو سره د مرستي په مقصد او د هغوي د ستونزو د لري کولو په باره کي داسي فرمایلي دي : (هر کله چي پر لمانځه دریږم، غواړم چي په [illegible] تأمین سره یي ادا کړم، خو د لمانځه په منځ کي هر کله چي د کوم وړوکي ماشوم د ژړا غږ اورم نو ژر خپل لمانځه ته خاتمه ورکوم » خو د کوچني د احوال څخه ځان خبر دار کړم» چي د هغه مور ته څه زحمت او تکلیف ونه رسیږي په پاي کي خپلو افغاني وروڼو ته خطاب کوم، چي له خداي«ج» نه وویریږئ، د رسول اکرم «ص» په پورتني وینا عمل وکړئ!

سنگ تهداب دار العلوم ...

مفصلاً صحبت نموده اعمار مدارس دیني را یك امر ضروري براي فراگیري دروس اسلامي به فرزندان کشور تلقي نمود. متعاقباً محترم مولوي عبدالرحیم ، محترم حاجي ابوخان و محترم ملا خماري در رابطه به اهمیت فراگیري دانش اسلامي و ارزش اعمار مدارس براي اولاد کشور صحبت نمودند . سپس محترم مولوي عبدالکبیر معاون شوراي سرپرست بیانیه یي عالمانه شانرا ابراد نموده سنگ تهداب مدرسه یي دارالعلوم احمدیه را در حالیکه عده یي از علما و بزرگان قوم الله دین خیل احمدزي محترم مولوي طه رئیس ریاست اول استخبارات کابل، ولسوال ولسوالي بگرامي و جمعي از اهالي منطقه حاضر بودند گذاشتند و آرزو بردند تا فرزندان کشور با تلاش بیشتر در کسب دانش و علوم اسلامي بپردزند .

د پرله پسي خبرو اترو له ...

مـرکي په ترڅ کي ویلي دي چي : د پرله پسي خبرو اترو له لاري د طالبانو او د لویدیځ سړ تفاهم له منځه تلي شي. په کابل کي د چارواکو سره تر خبرو اترو وروسته ښاغلي «یانګ کاونګ، وویل ، ددي امکان شته چي یو د بل سره د مقابلي پر ځاي یو د بل سره همکاري وکړي .

هغـه هم دا ډول افغان جګړه کوونکي خواوي وهڅولي چي د رواني شخړي د آواري لپاره دي سوله ایزه او سیاسي آواري پیدا کړي چي د پرمختیا او بیا وداني دپاره ډیره مهمه ده . ښاغلي یانګ کاونګ چي یو لوړ رتبه لویدیځ مامور دي د افغانستان په اړه وایي چي پدي اړه یو سړ تفاهم شته چي وایي د طالبانو ډلي د بشر د حقوقو څخه تیري کوي. هغه وویل چي د بیلا بیلو فلسفو پر بنسټ د بشر د حقوقو د تطبیق بیلا ډولونه شته، خو د بشر نور حقوق شته چي طالبانو محدود کړیدي. هغه زیاته کړه دا ډیره مهمه ده چي ښځو ته اجازه ورکړل شي چي هغه ډول ژوند وکړي چي دوي یي غواړي . هغه وویل چي دداسي یو سړ تفاهمونو د لیري کولو لپاره ضروري ده چي پرله پسي خبري اتري وشي. هغه وویل چي په کابل کي د چارواکو سره تر خبرو اترو وروسته دي یو څه هیله من شویدي چي وضعه هغومره هم خند نه یا خرابه نده لکه چي په نړۍ کي انځور شویده . هغه همدا ډول د شمال د ائتلاف او طالبانو تر منځ د ملګرو ملتونو او د سیمي د هیوادونو په مرستي پر خبرو اترو ټینګار وکړ .

ده وویل چي سوله باید دا ممکنه کړي چي نړیواله ټولنه له عادي مرستو څخه پرته نوري مرستي هم وکړي او افغانستان بیا رغاوني او پرمختیا ته اړه لري ښاغلي کاونګ وویل چي د سیمي د ځینو هیوادونو او نړیوالو نوروښاخونو مداخلي د افغانستان د ستونزو زیاته پړه په غاړه لري .

مقادیر هنگفت مهمات ...

فیر ماین هاوان، سه عدد ماین ضد تانک، یک صندوق مرمي اکایس و پنج عدد شریر زیکویک بدست آمده است .

شاه ناوي او ٤١ کسان ...

پاتي ؤ پولیسو ته وویل چي د موټر چلوونکي ډیر شراب څښلي وو او د چلوونکي نیشه ددي پیښي لامل شوه . په خبر کي ویل شویدي چي په دي حادثه کښي زوم او ناوي هم مړه شوي چي د ۲۵ مړو جسدونه پیدا شوي او په نورو پسي پلټنه روانه ده .

ولسوالي قلعه زال ولایت ...

اندازه سلاح هاي ثقیله دشمن تخریب و تعدادي از افراد مورال باخته آنان زخمي و به هلاکت رسیده و دشمن معترض توسط مجاهدین و طلبه هاي کرام تا منطقه حیرتان تعقیب و فعلاً وضع منطقه آرام بوده باشنده گان ولسوالي در فضاي آرامش بسر میبرند .

وي افزود اخیراً محفلي به اشتراك علماي کرام ، بزرگان قوماندانان جهادي و جمع کثري از اهالي ولسوالي قلعه زال این ولایت برگزار گردید.

اشتراك کننده گان محفل حمایت و پشتیباني شانرا از اهداف و ارزشهاي امارت اسلامي افغانستان تحت قیادت عالیقدر امیر المؤمنین اعلان نموده وعده سپردند که در کنار نیرو هاي اردوي اسلامي علیه دشمنان جهاد میمانند همچنان اشتراك کننده گان محفل یکمقدار مبلغ نقده به مسجد جامع و مدرسه مرکز آن ولسوالي مساعدت نمودند .

زهر لرونکي وسلي په ...

د برطانیي تلویزیون څلورم چینل په خبرونو کښي دا انکشاف هم شوي چي د خلیج له جنګ څخه وروسته په ۱۹۹۲ کښي برطانیي عراق ته د نیروګیس انتي دوت ورکړ له دي واقعي وروسته برطانوي سیکرټري له دي پیښي څخه د دفاع کولو په ترڅ کي وعده وکړه چي په دي هکله به پلټنه وکړي مګر وروسته یي و ویل چي دا مواد مو د طبي چارو لپاره عراق ته لیږلي و .

له شمالي کوریا سره د عراق...

د امریکا پالیسي په دریوو هدفونو ولاړه ده او خپل دا اهداف د تیلو د تر لاسه کولو، وسلو ورکولو او د اسرائیلو د برلاسي په صورت کي تر لاسه کول غواړي .

سلوزرونه زیات امریکایي...

اخستي ده د هغوي کوچنیان نیمګړي زیږي زړه یي خپله وظیفه په ښه ډول نه شي تر سره کولي. دبدن یو شمیر غړي یي خراب او له تشویش سره مخامخ وي.

که څه هم د متحده ایالاتو لوړ رتبه مقامات هڅه کوي چي دا ناروغي د خلکو له نظر نه پټه وساتي خو د امریکا د پوځ قوماندانان، دفاعي چارو د وزارت لوړ رتبه مقامات حتي ټول امریکایي ولس پري خبر دي او له یو ډول تشویش او اضطراب سره مخ دي .

په خبر کي ویل شویدي چي امریکایي مقاماتو په دي اعتراف کړیدي چي د خلیج د جګړي ۲۰۰۰۰ پوځیان د کیمیاوي وسلو د استعمال په نتیجه کي اغیزمن شویدي .

د یو بل خبر له مخي امریکایي عسکرو په منځني ختیځ کي یو میلون کیمیاوي او اتومي ګولي استعمال کړیدي .

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300

د شریعت تبصره

د کب دریمه د روسي یرغلګرو پر ضد د کابل د مسلمانو خلکو د پاځون ورځ.

روسي یرغلګرو او په کابل کي د هغوي مزدورو واکدارانو داسي خیال کاوه چي د سره پوځ په موجودیت کي به افغان مجاهد ملت خپل جرأت او امید له لاسه ورکړي او نور به ونشي کولاي چي د کمونیستي کودتا او د هغوي د ایدیالوژي پر خلاف آواز اوچت کړي. د سره پوځ واکدارانو خو د شرقي اروپا او منځني آسیا د هیوادونو د نیولو په څیرد افغانستان لاس لاندي کول هم د څو ورځو او یا هفتو په موده کي تخمین کړي وه هغوي په خپلو وحشي لښکرو او مدرنو اسلحو ډیر مغرور ؤ خو د ډیر لږ وخت تیریدو دا ورته په ګوته کړه چي د دوي جاهلانه قیاسونه غلط او د دوي خوبونه دروغ دي. پر هیواد باندي د سرو لښکرو له تیري څخه مخکي لا د جهاد سپیڅلي بیرغ اوچت او د هیواد د هر مومن بچي غوږ ته د سره استکبار پر ضد د جهاد د فرضیت خبر وررسیدلي ؤ ببرك کارمل چي روسانو له غوږه نیولي او بیایي تر کابل پوري د خپلو پوځونو په بدرګه کي راوست روسانو ته دا ډاډ ورکړي ؤ چي پر افغانستان د سرو لښکرو له یرغل سره جوخت هلته پوره امنیت تأمین او د هغو حاکمیت به ټینګ شي خو د روسي قواو له راتګ څخه لا دوه میاشتي نه وي تیري شوي چي د مزدور حکومت د مزدور رئیس د قصر د شاوخوا په شمول په یوه شیبه په یوه آواز د کابل له ټول ښار څخه د الله اکبر کفر لړزونکي ناري پیل او د روسي لاس پوڅو او پوځونو پر ضد د کرکي او نفرت آواز اوچت شو. د ۱۳۵۸ کال د کب د میاشتي په دریمه‌شپه د کابل د مسلمان ولس نارینه ؤ، ښځو، هلکانو او نجونو د خپلو بامونو له سرونو څخه د روس حاکمیت او حکومت پر خلاف پاڅون پیل کړ، یرغلګرو قواو غوښتل چي دا پاڅون په لمړیو شیبو کي غلي او د نړیوالو تر غوږو ددغه ضدیت د آواز له رسیدو څخه مخنیوي وکړي په همدغه شپه کي یي پر خلکو او کورونو ګولي واورولي خو د تکبیر ناري شیبه په شیبه زوروري کیدي او تر سهاره پوري یي دوام وموند د سهار په راختلو سره د کابل مجاهد او پر هیواد مین اوسیدونکي د ښار جادو، بازارونو او لارو ته راووتل او په تشو لاسونوید روسانو پر ضد د مخالفت بیرغ اوچت کړ دغه پاڅون اولاریون له خیرخانې څخه نیولي تر سید نور محمد شاه مینه، له میرویس میدان او دشت برچي څخه نیولي تر څرخي پله پوري ټول ښاریي نیولي ؤ،سره لښکریان او مزدور کمونیستان په خپلو ټانګو او زغره والو وسیلو کي سپاره د پاڅون د ټکولو له پاره د ولس مخي ته راووتل، روسي میګ او هلیکوپتر الوتکو له هوا څخه خلك ویرول په پاي کي د کابل‌د‌مسلمان ولس لاسونه د یرغلګرو ګریوانونو ته ورسیدل او د وحشي پوځ په زرهاو ګولي پر خلکو وورول شوي د غرمي په شاوخوا کي د مجاهدو خلکو په سلهاو ویاړمني جنازي د هدیرو خواته یوړل شوي او په سلهاو نور تیپان شول که څه هم وطن پلورونکو کمونیستانو خپلو بادارانو ته ویلي ؤ چي په افغانستان کي مخالفت یواځي د اطرافي خلکو له خوا دي، د ښارونو اوسیدونکي زموږ پلویان دي خو د کابل د باتورو خلکو پاڅون دا هغوي ته وروښودله چي یو مسلمان افغان هم د پردیو حاکمیت نه مني، د کابل د اتلو اوسیدونکو دغه پاڅون د ټول هیواد مجاهد ولس ته دا ډاډ شو چي د روسانو پر ضد مجاهده کي هغوي یواځي نه دي او روسانو ته یي دا کړنګ له غوږه تیر کړ چي د افغانستان نیول او پر افغانانو د حکومت کولو خیال ، محال او لیونتوب دي چي الحمد لله د عمل په ډګر کي هم دا ادعا ثابته او زموږ میړني ولس پر روسانو او نړیوالو ځان وپیژاند .

تلپاتي دي وي د کب د دریمي حماسه زیږوونکي پاڅون یاد

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press